# جلدي ساري ناروغي (سکېبيز)



## د عفونت مخنيوی او کنترول
## معلوماتي کتابچه

# جلدي ساري ناروغي (سکېبيز)

سکېبيز ناروغي عامه ده او هر چا ته لګيدلی شي. د دې درملنه بايد په چټکۍ سره وکړل شي ځو يې د خپريدو مخنيول وکړل شي.

وګورئ چې آيا دا سکېبيز ناروغي ده

د دې علايم دا دي:

- سخت خارښت، خصوصاً د شپې
- سرې او داغ يا پولۍ لرونکي دانې

د دانو دغه ځای سور ښکاريدی شي. په تور پوستکي د دې ليدل مشکل وي خو تاسو يې احساسولی شئ.



کوچني حشرات په پوستکۍ هګۍ اچولی شي، چې په يو سر کې د نقطې سره کرښې پريږدي.



دانې هر ځای راڅرګندیدی شي، خو معمولاً د ګوتو په منځ کې راڅرګندیږي.



دغه دانې بیا خپریږي او د کوچنیو پولو په څیر ښکاري. دا په څرګند پوستکي سرې ښکاري.



دغه دانې په پوستکي تور داغونه پریږدي. دا په غنم رنګ پوستکي نصواري یا تور رنګ ښکاري.

# ځلدي ساري ناروغي (سکېبيز)

سکېبيز عموماً جدي ناروغي نه ده خو دا درملنې ته اړتيا لري.
د دې څخه نورې ناروغۍ جوړيږي لکه د جلد سخته ناروغي ايګزيما.

سکېبيز له يو څخه بل ته په اسانۍ سره انتقاليږي خو دانې په بدن ښکاره کيدل تر
8 اوونيو پورې وخت اخيستلی شي او دا تشخيص کيدی شي.

د دانو په ګرولو سره پوستکی سرايت کوي.

په دې ناروغۍ د اخته شوي ټول خلکو درملنه بايد
په ورته وخت وکړل شي، حتی د هغه کسانو هم
چې علايم نه لري.

# ځلدي ساري ناروغي (سکېبيز)

## ځپریدل

### په دې ناروغۍ د اخته ناروغ څخه:

د هغه کس سره مستقيم د پوستکي اړيکه چې د سکېبيز ناروغي لري.

شاوخوا 10 دقيقې په دوام سره د پوستکو ترمنځ اړيکه.

حشرات د يو شخص څخه بل ته ټوپ نه وهي خو ولې په
آرام يا تدريج سره د يو نه بل ته انتقاليږي کله چې
پوستکی د بل پوستکي سره د لنډ وخت لپاره اړيکه ولري،
د بيلګې په توګه، لاسونه ملاوهل، جنسي اړيکه.

# د سکېبيز لپاره د درملنې پلان

## د لومړۍ ورځې تداوی

د درملو لګولو دمخه مه لامبئ او شاور مه اخلئ.
لوشن/کريم بايد په يخ پوستکي ولګول شي.

دا ډاډه کوئ چې ټول بدن مو پټ وي چې په دې کې د لاسو تلي، د پښو پوندې، د لاسو او پښو هغه نوکونه چې کټ شوې نه وي، غاړه، مخ، غوږونه او په سر کې د ويښتانو سره پوستکي شامل دي.

توليدوونکی ممکن د غاړې پورته د درملو لګولو سپارښتنه ونه کړي ما سوا د يو څو ځانګړي ګروپونو څخه، مګر ماهرانه نظر دا دی چې د دغه ځای بايد په ټول وضعيتونو/تماسونو کې درملنه ترسره کړل شي. ښايي له يو ټيوب څخه زيات لوشن/کريمو ته اړتيا وي څو پوره بدن وپوښل شي.

که چيرې دغه کريم يا لوشن د بدن څخه لرې شي، نو بايد بيا ولګول شي، (د بيلګې په توګه، د لاسونو مينځلو يا تشناب استعمالولو پر وخت.

د درملنې وروسته بايد کريم/لوشن د پوستکي څخه لرې کړل شي لکه څنګه چې توليدوونکي لارښوونه کړې وي.

د شپې لګول (لږ تر لږه اته ساعته) زيات موثر وي، ځکه چې درمل به په ورځني فعاليتونو کې نه لرې کيږي.

د درملنې وروسته بايد کريم/لوشن د پوستکي څخه لرې کړل شي لکه څنګه چې توليدوونکي لارښوونه کړې وي. د درملنې وروسته د بستر څادرې او کالي ومينځئ.

ټول کارمندان بايد په ورته 24 ساعتو کې درملنه ترلاسه کړي.

## د دويمې ورځې تداوی

د تداوي 7 ورځې وروسته د لومړۍ ورځې د تداوي

ټول اقدامات تکرار کړئ.

ټول په ورته 24 ساعتونو کې.

## له موږ سره اړیکه ونیسئ

د کرکلیس او وېکفیلډ عفونت د مخنیوي او کنټرول ټیم

برېښنالیک: infection.control@kirklees.gov.uk

تلیفون: 01484 221000

ما سکین کړئ

وېب سایټ

www.kirklees.gov.uk/infectioncontrol

د بریتانیې د روغتیا امنیتي اداره (UKHSA)

تلیفون: 0113 386 0300

د کاري ساعتونو نه بهر مشوره 0151 909 1219